ماریا ترزا والش ـ د مرسدس سوسا په آواز
ژباړه: فرهاد ویاړ
۲۲ جولای ۲۰۲۴

## لکه سګرېټ

په کراتو يې ووژلم
په کراتو يې وويل هغه مړ شو،
خو بی له شکه چې زه لا دلته یم
او دا دي بيا راژوندی کېږم.
***
د بدمرغی منندوی يم
او د هغه لاس چې په چاړې ډک و
ځکه چې دومره بد يې ووژلم
چې زه لا هم ترانه وایم.
***
له يوې کلنې مدفونتيا وروسته
لکه د يو ژغورلي په شان
چې د جګړې ميدان ته بیا راستنيږي
د لمر لپاره ترانه وایم
د سګرېټ لپاره ترانه وایم
***
په کراتو يې حساب راته پاک کړی،
په کراتو ترې تم شوم،
خپلې جنازې ته لاړم،
یوازې او ژړغونی.
دستمال ته مې غوټه ورواچوله،
خو له یاده مې لاړ
چې یوازې همدا یوځل نه و

او بیا مې ترانه وویله.

***

له یوې کلنۍ مدفونتیا وروسته

لکه د یو ژغورلي په شان

چې د جګړې میدان ته بیا راستنیږي

د لمر لپاره ترانه وایم

د سګریټ لپاره ترانه وایم

***

په کراتو یې ووژلی

په کراتو بیا ژوندی شوی

خو بیا هم د رنځونو شپې او نهیلي مخې ته لری

خو د ډوبیدنې پر مهال

د شپې د تررمې پر مهال

به بیا وژغورل شی

څو ترانه ووایی.

***

له یوې کلنۍ مدفونتیا وروسته

لکه د یو ژغورلي په شان

چې د جګړې میدان ته بیا راستنیږي

د لمر لپاره ترانه وایم

د سګریټ لپاره ترانه وایم.